انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۲۲/۰٤/۱۷

# بهانې دي غرونه غرونه

راکوئ تازه زخمونه څنګه جوړ شم
لس اغزی او دوه ګلونه څنګه جوړ شم

په یخنې کی خو تودوخې ته اړتیاوی
وروئ واورې یخونه څنګه جوړ شم

چی ګرمې، مې ډډې سیزې یخ ته اړیم
را خواره کړئ نوراورونه څنګه جوړشم

زنګوئ مې په ټالونو کی د زلفو
غوڅوې چې یی لړونه څنګه جوړ شم

درولی دي یم صف د قربانۍ کی
هم چیچې راته غاښونه څنګه جوړ شم

کلیوال یمه ساده ژوندی په مینه
لګوی رنګ تورونه څنګه جوړشم

هر اخلاص تعبیروی په بله لاره
بهانې دي غرونه څنګه جوړ شم

فبروری/۱۷/۲۰۲۲

تورنتو ـ کاناډا



برای مطالب دیگر انجنیر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولېږئ: info@arianafghanistan.com